SHARIAT
شریعت
اوونیزه
په اوونی کې یو ځل خپرېږي
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزی نشراتي ارگان
پنځم کال ۹۰ گڼه پرله پسې(۳۷۷) سه شنبه د۱۴۲۱هـ ق کال درمضان المبارك (۹)
د۱۳۷۹هـ ش کال د لیندی دمیاشتي(۱۵)د۲۰۰۰میلادي کال د دسمبر (۵)

د سوداگری وزارت معین د اسوشیتد پرس خبری آژانس سره په مرکه کی :

نړیوالو بندیزونو یوازی د عام ولس ستونزی زیاتی کړی دی

د سوداگری وزارت معین محترم مولوی فضل محمد فیضان پرون د اسوشیتد پرس آژانس له خبریال سره په افغانستان باندی د ملگرو ملتو د سازمان د امنیت شورا د بندیزونو ناوړو اغیزو په اړوند مرکه وکړه .

د سوداگری وزارت محترم معین د ملگرو ملتو د سازمان د امنیت شورا د بندیزونو د نوی طرحی په باب د اسوشیتد پرس آژانس د خبریال د پوښتنی په ځواب کی وویل: واقعیت دا دی هغه مخکینی بندیزونه چی د ملگرو ملتو د سازمان د امنیت شورا لخوا د افغانستان په اسلامی امارت

باندی لگول شویدی د افغانستان د اسلامی امارت په اقتصادی تولنیز او سیاسی دریځ باندی ډېره کوچنی اغیزه هم نده کړی بلکی ناوړی اغیزی یی د هیواد عامو خلکو ته متوجه دی.

محترم فیضان د سوداگری وزارت د اقتصادی پالیسی په اړوند وویل موږ د ... ۴ مخ

آلهی فرمان
عدل (انصاف) وکړئ ځکه چی (عدل) دیر نژدی دی تقوا (پرهیزگاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه !
ایشان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی حرمتي بگذارید.

په هلمند کی د قلم په نامه ... ټولنه جوړه شوه

هلمند – باختر :

[illegible]

به اساس گذارش هاي منابع موثق :

بیش از پنج فابریکه هیروئین در بدخشان فعالیت دارد

قوماندانان مخالفین مصروف قاچاق مخدرات میباشند

مسعود و افرادش سرمایه هنگفتي در بانك هاي خارجي جمع نموده اند

اتباع روسیه و تاجکستان خریداران اصلي هیروئین در سرحدات افغانستان هستند

کابل – باختر :
بیش از پنج فابریکه تولید و پروسس هیروئین در مربوطات ولایت بدخشان فعالیت دارد .

آژانس اطلاعاتي باختر از قول منابع موثق در ولایت تخار از شهر تالقان خبر داد : مسعود و تعداد از قوماندانان وي از چندین سال میشود

که همکاري روسها و تاجك ها و سایر قاچاقبان مواد مخدر مصروف تولید قاچاق و تجارت مواد مخدر بوده و از فروش هیروئین مبالغ

هنگفتي در بانك هاي اروپایي غربي و سایر کشور هاي جهان سرمایه گذاري نموده اند منبع افزود اکنون بیش از پنج فابریکه تولید

و پروسس هیروئین در مربوطات ولات بدخشان فعالیت دارد که مواد متذکره ان توسط قوماندانان مسعود روسها و تاجك ها از طریق واخان

بدخشان وینگي قلعه ولایت تخار از طریق تاجکستان به اروپاي غربي و امریکا قاچاق میگردد.

منبع افزود تنهاد و مناطق ... ص۶

پرون په کابل کي :

د کورنیو چارو وزیر د لوگر او پکتیکا له والیانو سره وکتل

د کورنیو چارو وزیر محترم ملا عبدالرزاق اخند پرون د خپل کار په دفتر کی د لوگر او پکتیکا د ولایتونو له محترمو والیانو سره په جلا- جلا ډول وکتل.

په دغو کتنو کی د لوگر والی محترم مولوی ضیا الرحمن مدنی او د ... ۴ مخ

جمعیت افغاني سره میاشت با شفاخانه هاي کشور :

به ارزش ۲۷ ملیون و هفتصد هزار افغاني سامان آلات طبي مساعدت نمود

کابل – باختر :
جمعیت عالي افغاني سره میاشت به ارزش مبلغ سي و هشت ملیون و هفتصد هزار افغاني به شفاخانه ها و کلینیك هاي صحي مختلف ادویه و سامان الات ... ص۶

کمیسیون بررسي از تصدي ها دوبر ...

کابل – باختر :
جلسه کمیسیون هیأت بررسي از تصدي ها دیروز دایر گردید
در این جلسه که تحت ریاست ...

[illegible]

محترم قاضي القضات ستره محکمه ا.ا.ا :

جهانیان باید در منع کشت کوکنار مساعدت نمایند

دیروز شوراي عالي ستره محکمه تحت ریاست محترم مولوي نور محمد ثاقب قاضي القضات و رئیس ستره محکمه امارت اسلامي در مقر ستره محکمه دایر ... ص۶

ترکیه دخپل اقتصادي بحران په لړ کي د نړیوال وجهي صندوق له استاځو سره خبري کوي

د نړیوال وجهي صندوق استازو پرون د ترکیې له مقاماتو سره خپلې خبري پیل کړي.
ددغو خبرو هدف چي د ... ۴ مخ

مذاکرات اعضاء اتحادیه اروپا به ناکامي انجامید

وزرا خارجه کشور هاي عضو اتحادیه اروپا در جلسه شان در مورد تعداد اعضاي هر کشور در اتحادیه مذکور به ناکامي مواجه گردیدند.

روبرت ویدرین وزیر خارجه فرانسه در پایان جلسه اظهار داشت این معضله میتواند از جانب روساي جمهور و صدراعظمان کشور ... ص۶

گزارش خبرنگار هفته نامه «شریعت» از میدان هوایي بلخ :

از میدان هوایي بلخ هفته وار حدود ۱۰-۱۲ پرواز جانب کابل ، هرات کندهار و جلال آباد صورت میگیرد

عقربه هاي ساعت ۱۲:۰۰ظهر را نشان میداد . از عقب شیشه هاي گرد و مهتاب مانند طیاره An24 د آریانا افغان هوایي شرکت هواي شهر بلخ کاملاً ابر آلود بنظر میرسید ، در اولین دقایق نشست طیاره به میدان هوایي بلخ احساس نمودم که هواي این شهر به مراتب نسبت به شهر کابل گرم است. پرسونل خدماتي میدان که هر کدام

چین هاي مخصوص به تن داشتند در خدمت مسافرین شتافتند و کراچي هاي مخصوص جهت انتقال کارگوي مسافرین موظف شد. ...

امریکه کارمندان آریانا را در میدان هوایي بلخ با کابل در ... ص۶

نمایي از یك فروند طیاره د آریانا افغاني هوایي شرکت که در مقابل ترمینل میدان هوایي بلخ در حال مسافرگیری دیده میشود

[illegible]

پاککاري جوي ده نو ولایت لوگر آغاز گردید

لوگر – باختر :
کار پاك کاري جوي ده نو ولایت لوگر اخیراً آغاز گردید.
جوي متذکره که هجده کیلو متر طول دارد از طریق آن پانزده هزار جریب زمین زراعتي آبیاري گردیده و هشت هزار خانواده از آب آن استفاده مینماید در کار ... ص۶

تعداد تلفات تصادم دو قطار آهن در هند افزایش یافت

رقم تلفات ناشي از تصادم دو قطار آهن در ایالت پنجاب هند به چهل و شش نفر بالغ گردیده است .
کارگران خط آهن هند با استفاده از آلات مخصوص ... ص۶

د دارالتأدیب رئیس محترم ملامحمدطیب «مبارک» له «شریعت» سره په مرکه کی :

دارالتأدیب یوه اصلاحی ،ښوونیزه او روزنیزه مؤسسه ده

په دی مؤسسه کی له (۷) نه تر (۱۸) کالو عمر لرونکی ماشومان شامل دی

شریعت: قدرمنو لوستونکو ! زمونږ خبریال د اخل دارالتأدیب له رئیس محترم ملامحمدطیب «مبارک» سره ددغی مؤسسی د اړوندو چارو د څرنگوالی په باب مرکه کړی چی د دادی ستاسو عزیزانو د مطالعی لپاره یی خپروو .

په پیل کی محترم ملامحمدطیب مبارک داسی وویل : دارالتأدیب یوه اصلاحی ،ښوونیزه او روزنیزه مؤسسه ده چی له ۷ نه تر ۱۸ کالو عمر لرونکی شکمن ،تورن او محکوم ماشومان په کی شامل او اهداف یی په لاندی ډول دی : د ترحجز لاندی ماشومانو ساتنه ، ددوی سالمه ښوونه او روزنه «دسالمی روزنی په چارو کی یی ددی مؤسسی رول او اهمیت اوددوی د روغتیا ، اعاشی ،اباتی او جامو برابرول او تأمینول .

ده وویل چی ... زمونږ مؤسسه ... ۴ مخ

سرمقاله

دلوی خدای (ج) په نامه

او دا ځل د کوکنارو د نه کرلو په سر څوریږو !

کله چی نړیوالو خبری سرچینو په په تفصیل سره په افغانستان کی د کوکنارو د کښت د عملی بندیز خبرونه خپاره کړل او دایی تایید کړه چی اسلامی امارت په دی اړوند دومره لوی بری تر لاسه کړ چی په لسو کلو کی یی هم امکان نه درلود او تر اوسه یی په نړی کی ساری نه دی لیدل شوی نو سمدلاسه امریکا، روسیی او نورو مغرضو هیوادو د نوو بندیزونو گواښونه پیل کړل، د سیاسی کتونکو په خیال ښایی ددی اقدام له مهمو عواملو یو دا وی چی وایی د مخدراتو

۲ مخ

شریعت

د تاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش

: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې

مسوول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»

مرستیال : غلام محمد فاروق

دبوي گڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداري

پسټ بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱ توزیع و شکایات : ٦٢٨٥٩

جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز

چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

نړیواله مافیا دومره زوروره او اغیزمنه ده چې د روسیې او امریکا ډېر لوړ شخصیتونه یې هم ملاتړ کوي. په افغانستان کې د کوکنارو د بندیز په وړاندې نړیوال سورغبرگون او بیا اوس لا د نورو بندیزونو گواښونه تر ډېره حده ددې خبرې پوخوالي ثابتوي او سړی د دې واقعیت په منلو مجبوروي چې غالباً دا به هسې بو گومان نه، بلکې بشپړ حقیقت وي او دا ځکه چې که د مخدراتو مافیا کمزوري وای نو اوس به لا ډېر مخکې په «برما» سخت بندیزونه لگیدلي و ای، چېرته چې هر کال په زرگونو ټنه اپیم تولیدیږي، خو بر عکس په سلگونو ملیونه ډالره مرستې هم ورسره کیږي، له بلې خوا کیدای شي سیاسي مافیا هم په کړاره نه وي ناسته، ځکه د مخدراتو بندول خو حتماً د اسلامي امارت یو لوی پر مختگ دی او د نړۍ له ډېرو هیوادو سره د امارت د اړیکو په سمولو کې مرسته کوي . له همدې کبله د روس او امریکې سیاسي مشرانو په وارخطایي سره د بندیزونو ناري سوري پیل او نور هیوادونه یې وویرول تر څو له افغانستان سره څه اړیکې جوړې نه کړي خو په هر صورت دا دې اوس به د روس او امریکې له خوا امنیت شورۍ ته د نورو بندیزونو سپارښتنه کیږي او افغان ولس به دا ځل د کوکنارو د بندولو په سر ځورېږي او ستونزې به گالي.

که څه هم د بشري خواخوږي دا درواغجن مدعیان خو ناري وهي چې دا بندیزونه په عام ولس څه بده اغیزه نه کوي خو حقیقت هر چاته څرگند او ټول پوهیږي چې بو هیواد ته له بهر نه او بهرته د الوتکو بندول، استاځي یې له سفر نه ایسارول، خپلې پانگې یې په بهر کې کنگل او د بهرنیانو داخل ته نه پریښوول او نور دا ډول ظالمانه بندیزونه به څرنگه ممکن وي چې د یوه هیواد په خلکو بده اغیزه ونه کړي، آیا دا به څوک ومني چې که په روسیه او امریکا دا شان بندیزونه ولگیږي، او عام ولس یې متاثر نه شي ؟! دا هیڅ امکان نه لري خو څرنگه چې افغانانو د کوکنارو په بندولو او د خپل دین ، کلتور او خپلواکۍ په ساتلو کې سمه اصولي تگلاره خپله کړې او په دې لار کې یې غټې قرباني هم ورکړې دي نو اوس مجبور دي د خپل تاریخنتوب په سر به د نړۍ د سترو استعماري هیوادونو له خوا دغه سزاگانې زغمي خو نړیوال دې په دې وپوهیږي چې افغانان به کله هم له خپلو اصولو تیر نه شي او ان شاء الله تل به سر لوړي ژوند کوي او په سر لوړي به وژل کیږي .

مگر بیا هم په دې هکله د بشري خیر ښیگنې نړیوالې ټولنې چې په بې توپیره ډول د انساني خواخوږي او په هر ځای کې د ربړیدلو او کړیدلو خلکو د مرستې دعوی کوي، دا مسؤلیت لري چې د افغان ولس ددې بې ځایه ځوریدنې پر خلاف آواز او چت او دغه بندیزونه په کلکه وغندي، نوموړي سازمانونه باید هیڅکله د افغانستان جگړه ځپلې حالت او د روسي یرغل نه راپاتې شوې ستونزې له یاده ونه باسي د نړۍ د ټولو بې غرضو او سوله دوستو هیوادو پاملرنه دې را جلب او په افغانستان کې د کوکنارو د کښت عملي بندیز دې د ټول بشریت د نیکمرغۍ لپاره د افغانانو یوه لویه قرباني وبولي چې ښایي هیڅکله یې په مقابل کې د سزا ورکولو دغه چلند جواز ونه لري.

فلسطین د تاریخ په اوږدو کې (۲)

طبیب محمد نذیر احمد زی

فلسطین داموي اوعباسي خلفاؤ په دوران کې :

ترخلفای راشدینو وروسته داموي اوعباسي خلفاؤ په دوران کې فلسطین بیاهم داسلامي خلافت یوه برخه وه اودمکې معظمې اومدینې منورې په څیر دبیت المقدس احترام په پوره ډول ساتل کیده اودعلم اوعرفان یو ستر مرکز و.عبدالملک بن مروان په ٦٩ هجري کې د اقصی جومات په ښکلې اندازله سره بیا ودان کړ مسلمانانو واکمنو دبیت المقدس دعباسي اوسیدونکو زیات خیال ساته اوځې اړیکې یې ورسره ساتلې مگردنوموړي سیمې یهودي اوعیسایي خلکو هیڅکله هم له مسلمانانو سره ورته دنیکې سلوک نه ده خپل کړی لکه څنگه چې دوخت دروم ،عیسایي واکمنو ځوځله پراسلامي سرحدونو بریدونه وکړل چې په شاوتمبول شول .دهارون الرشید په دوران کې دروم عیسایي واکمن «نقفور»هارون الرشید ته دجگړې گواښ وکړ خوعباسي خلیفه په ډېرې میړانې سره هغه ته ولیکل «ستاسو ځواب به ته په خپلو سترگوووینې نه چې په غوږو به یې واورې هماغه وچې هارون الرشید اسلامي لښکرې دهغوی دمخنیوي لپاره تیارسۍ کړې اوورومیانو ته یې غاښ ماتوونکې ځواب ورکړ پردې سربیره خلیفه معتصم هم ځوځله دعیسایانو بریدونه پرشاوتمبول داهغه دوران وچې مسلمانان ویښ یوموټي اودجگړې په تکتیکونوښه پوهیدل امااافسوس چې ورو-ورومسلمانان د دنیاپرستیوبلدشول اوله خپل دین څخه دلرې والي له کبله یې ننني مظلومیت په برخه شو.

صلیبي جگړې اوداسلام سترفاتح صلاح الدین ایوبي «رحمة الله علیه»:

اسلامي واکمنوځلورسوه کاله بیت المقدس په خپل واک کې وساته ترمعتصم وروسته دعباسي خلیفه «موفق »په واکمن کیدوسره دعباسیانوزوال پیل شودخراسان اومصرله خواپاځونونه پیل شول مصردفاطمیانولاس ته ولوید،هغې کورنۍ ډېرسترجنایتونه وکړل حتی یوه ډله دروغجن پیغمبران یې وگمارل ترڅوشاوخواپه خپله گټه تبلیغ وکړي مسلمانان دبې اتفاقۍ له امله ډېرکمزوري شول هماغه ؤ چې په «۱۰۹۹»م کال کې عیسویانو بیت المقدس ونیو او۹۰۰۰۰تنومسلمانوپرشاوخوا تولوته یې لمه خپله واکمنۍ تینگه کړه. ترڅولسیزو مظلومیت اوژړا وروسته پراسلامي امت دلوی خدای «ج» درحمت باران بوځل بیاپه اوریدوشو اوداسلام سترفاتح صلاح الدین یوسف بن نجم الدین ایوبي دفلسطین دخپلواکۍ په شکل دجهاد بیرغ اوچت کړ دشاوخوا اسلامي ایالتونو خواره واره ځواکونه یې راټول اودعیسویانوپرضدیې جهادپیل کړ تردېروخونړیوجگړو وروسته د ۱۱۸۷ م کال دروژې دمبارکې میاشتې په ۲۷ دجمعې په ورځ داسلام سترغازي فاتح مجاهد صلاح الدین ایوبي له خپلو سرښندونکومجاهدینوسره ددښمن ورو ستۍ لیکې وځیرلې اوپه فاتحانه توگه بیت المقدس ته ننوت دالله تعالی شکرونه یې ترسره اودمسلمانانو دغه سترامانت یې یوځل بیاترلاسه کړ.

اسلامي امت په ټوروشپوکې:

دسلطان صلاح الدین ایوبي دټوري له برکته ۸۰۰ کاله مسلمانانوبیت المقدس په خپله واکمنۍ کې وساته په ۱۹۱۷ م کې چې دترکیې عثماني خلافت راپرېوت په فلسطین کې هم حالات واوښتل انگریزانو فلسطین ته ډېرې یهودي کورنۍ راولیږلې اوهغوی هلته میشته شول ترڅو ورو- ورویې شمیر زیات شو اودانگریزانو په لمسون یې دواکمنۍ دعوی پیل کړې .فلسطیني مسلمانانودهغوی اوانگریزانوپرخلاف جهادپیل کړمگردکفرۍ نړۍ دیوموټي سازش له کبله دملگروملتونوټولنې په ۱۹٤۷ م کې په خاینانه توگه فلسطین په دوو برخو وویشه اوداسرائیلویهودي حکومت یې په رسمیت وپیژانده یهودانو دنوروکفاروپه ملتیادمسلمانانوپرخلاف جگړوته دوام ورکړترڅودفلسطین مسلمانان یې له ټېښو وغورځول اوپاتې سیمه یې هم په ظلم اوزورخپله کړه .

دفلسطین برخلیک اسلامي امت ته یوسترسبق :

لوستلې به مو وي چې دفلسطین دخپلواکۍ په لارکې مسلمانومجاهدینو څومره ستونزې وگاللې اوڅومره وینې یې په قربانۍ کې ورکړې اوپه سلهاوو کلونو یې دغه داسلام ستریادگار دکفاروله منگولو وساته خوکله چې مسلمانان دتوحید دسپیڅلي کلیمې له سیوري لرې اودسیمو، قومونو ،ژبو اونوروفرعي اختلافاتو په نامه یوله بل څخه جلاشول داسلام دښمنانوته یوځل بیادبریدوخت پیداشو هغوی ټول یوځای اویوموټي دیهودیانو ترشاودریدل اودفلسطین اسلامي خاوره یې دکفرپه توروتیاروکې ونغاړله مسلمانان یې له خپلوکورونو وشړل ،په زرهاو تنه یې شهیدان اوبندیان کړل که څه هم فلسطیني مسلمانانودتیروڅوپنځوسو کلونو په دوران کې هیڅکله هم دیهودیانو په وړاندې دجهاد سپیڅلې سنگرونه تش نه دي ساتلي خوله بده بخته چې هلته دکفري ادارو سازشونو ډېرزیات پرمختگ کړی اوپردې بریالي شوي چې فلسطیني مسلمانان سره جلاکړي خپل مریان دهغوی په منځ کې ځواکمن کړي اودسولې ابیزحل په نامه دجهاد دڅورونکي غورځنگ مخه ونیسي همدادلیل دی چې دفلسطین ځینې خلک دیاسرعرفات دناروسوروتراثرلاندې راغلي اوخپله خپلواکۍ دامریکې اوانگریزدسوغات په توکاڅ کې وینې حال داچې خپلواکي په جهادسره ترلاسه کیږي نه داچې دکفارولخوا وریاورکول کیږي .خودپورتني ډلې ترڅنگ بیاپه فلسطیني ولس کې په خدای مین میړنی غازیان هم کم نه دي هغوی چې د «الاقصی دانتفاضې »«حماس »او «الجهاد» په اسلامي جهادي غورځنگونو کې سره غونډشوي هیله شته چې دخدای «ج» نصرت اوداسلامي امت خواخوږي ورسره مله شي اودخپلې خپلواکۍ په لاس ته راوړلوبریالي شي خوکاشکې چې دوی هم څودلې نه وای ، داسلام دلارښوونوسره سم ټول یوموټي اویوه ډله وای بیابه مولیدلي وو چې دهغوی مقابله چاکولای شوه !!په لنډه توگه ویلای شو چې دمنافقینوخیانت اودمجاهدینوتفرق فلسطیني مسلمانان له څولسیزوراپه دې خواله سترو کړاوونو سره مخامخ کړي نواسلامي امت ته په کارده چې دهغوی دمرستې ترڅنگ خپل ځانونه له هغوناروغیو څخه چې هغوی پرې اخته دي وساتي که نه خدای مکړه دوی به هم هماغه شان شي .

د روژې ځینې فقهي حکمونه (۳)

عبدالرحیم «ثاقب»

لاندې ۷ شیان روژه مکروه کوي :

۱- بې له عذره د څه شي څکل

۲- د ژاولو ژوول البته هغه ژاولې چې کوم خواږه ورسره گډ نه وي

۳- دخپلې میرمنې ښکلول (مچول)

٤- دخپلې میرمنې مسه کول او له هغې سره غاړه غړۍ کیدل

همدارنگه له هغې سره مباشرت کول دغه درې شیان په هغه صورت کې چې په ځان باندې له انزال څخه یې باوره وي.

٥- په خوله کې په قصدي توگه د لاړو ډېرول.

٦- په قصدي توگه د هغو لاړو تیرول چې په قصد سره په خوله کې ډېرې کړې شوې وي.

۷- د هغه کار انجامول چې د انسان د بدن د کمزورۍ سبب گرځي لکه رگ وهل او ښکر لگول.

لاندې ۹ شیان روژه نه مکروه کوي

۱- د وېښتانو غوړول.

۲- مسواک استعمالول.

۳- سترگې تورول

٤- مضمضه او استنشاق یعني په خوله او پوزه اوبه تیرول .

٥- غسل کول بغیر له احتلام او جنابت څخه همدارنگه د بدن د سړولو په غرض په لمده جامو کې ځان تاوول.

٦- رگ وهل او ښکر لگول په هغه صورت کې چې د بدن د کمزورۍ سبب ونه گرځي .

۷- د خپلې میرمنې ښکلول

۸- د میرمنې مسه کول

۹- او له هغې سره مباشرت کول خو دا ټول په هغه صورت کې چې په ځان یې له انزال او جماع څخه باور وي.

په لاندېنیو حالاتو کې مسلمان ته روا ده چې روژه وخوري او بیایې قضایې راوړي :

۱- د سفر په حالت کې : هغه سفر کوم چې د لمانځه د قصر سبب گرځي .

۲- د مرض په حالت کې : هغه مرض چې په روژه نیولو سره یې د زیاتوالي او یا مرگ احتمال وي .

۳- د ښځې د امیدوارۍ په مهال.

هغه حامله (امیدواره) میرمن چې د روژې په نیولو سره په ځان یاندې له کمزورۍ او مرض څخه بیریږي او یا مسلمان، حاذق او عادل طبیب ورته د روژې خوړلو توصیه ورکړې وي.

٤- ارضاع یعنې ماشوم ته د شیدو ورکولو په مهال :

هغه میرمن چې د روژې په نیولو سره یا په ځان او یا په خپل ماشوم باندې له مرض او کمزورۍ څخه بیریږي او یا هم مسلمان، حاذق او عادل طبیب ورته د افطار توصیه کړې وي .

٥- د شیخ فاني نوب په مهال.

هغه زاړه (بوډاگان) کسان چې ناړینه وي که ښځینه چې د روژې نیولو توان ونلري هغوی ته دا جایز ده چې روژه وخوري او بیایې قضایې هم رانه وړي او د خپلې هرې ورځې روژې په مقابل کې یوه مسکین ته فدیه ورکړي.

د اکراه په حالت کې که یو سړی بل څوک په زور او جبر سره روژې خوړلو ته اړ باسي نو په دې حال کې د جمهورو علماو په نزد هغه ته روا ده چې روژه وخوري او بیایې قضا راوړي.

(ایدز)این تحفه تمدن نو وعلل آن

«غفوراحمد غزنوي »

«وقتیکه ماشرقیها ازماشینیسم صحبت میکنیم ،ازبوروکـــــراسي ویا ازتکنوکراسي حرف میزنیم ویاازسرمایه داري صنعتي بارقابتي باسازشي حرف میز نیم نه باین عنوان است کـه مـاخـودمـان درشـرق دچارتکنوکراسي یابوروکراسي یا فـاشـیـسم مـدرن تکنوکراتهاویاامثال اینها هستیم ،بلکه بخاطراینست که وابسته به یك قرني هستیم ویك زمـان وروابط جهاني درآن روابط جهاني مسائلي مطرح است » کلمات فوق ازسخنان یکي ازجمله جامعه شناسان خاورزمین است که بگونه پیشگفتارموضوع مطروحـه پیشکش گردید،ومانیزباپیروي ازین تیوري بیهانه بي اینکه چون درقرني وجامعه بي زیست مینمائیم لذانمیتوان مسائل حادواساسي آنراناديده گرفت یکي ازپرابلمهـاي روز (ایدز)راعنوان نهاده سطري چندضمن آن دنبال مینمائیم .

ولي آنچـه درایـن راستابرشگفت جهانیان میافزایداینست که یکي ازعوامل وشرایط اساسي شناختن انسان الآن طرح مجدد مذهب ازطریق اجتماعي وسیاسي وازطریق فلسفي وعملي وفکري است زیرامذهب مجدد به این عنوان درمیان گروه هاي جدیدمردمي بخصوص بعدازجنگ بین المللي دوم مطرح شده وانسانرا باوصف زندگي مرفه مادیش اخلاقاًبه یك خلایي بزرگ معنوي متوجه ساخته. شاید سئوالي درینجابمیان آید که آیا این یك حالت عودت وبازگشت به مذاهب قدیم یونان وروم خواهد بود درحالیکه انسان قرون جدید سال هاي متماديست که علیه آن به پرخاش ومبارزه برخاسته وبه گفته بهٔ اصطلاح نوېغ وروشنفکران ضدکاتولیك قرن هفده وهژده که این صدارابلندنموده «مابهشت موعودمذهب راکه درمقابل عشق وپرستش وفداکاري وکسب ارزشهاي اخلاقي وتعالي روحي ومعنوي پارسايي وکمال انساني به پاداش میطلبیدذریعه تکنیك وعلمي که دردست داریم روي همین زمین ایجادمیکنیم »

البته مقصدآنان ازبهشت بورژوازي ایجادیك فلسفه خاص براي زندگي مادي وفلسفه رفاه زندگي ومصرف مادي است خلاصه برخلاف شعارگذشته که میگفت «زندگي کنیم تابه شناخت حقیقت برسیم »به این شعارعوض گردیدکه «حقایق را بشناسیم تاخوب زندگي کنیم »

پس در پاسخ به این سوال ارائه میداریم که این حالت بازگشت به مذاهب قدیم نبوده بلکه گرایش دانشمندان ومحققین عصرجدیداست که آهسته - آهسته ضمن تحقیقات علمي خویش به اسرارولطائف اسلام پي برده سرتسلیم بآن فرومیآورند ،به هرحال .ازهمینجاست که زندگي مصرفي ومادي نو درچوکات بورژوازي وانارشیزم چون بدون تحقیق علمي درست وعاري ازمعیارهاي اخلاقي انساني ومعنوي براه انداخته شده باگذشت ایام بامشکلات فراواني مواجه میگردد که یکي ازآنجمله پرابلمهابگونه بلواي عام مرض مهلك وناخوش آیند ایدز میباشد که درمدت زمان کمي توانست جهانیان رابه این وادارد تاعلیه آن طوردسته جمعي به پاخیزند وبخاطرسد شیوع آن دست بهم دهند .

واین درحالیست که طي گذارش اخیرسازمان ملل متحد درزمینه گفته شده که شمارمبتلایان مرض ایدز درسال ۲۰۰۱ به ۳٦ ملیون خواهد رسید ولي درحقیقت شمارآنهاشایدازین هم متجاوز گردد زیراطبق گذارش یك جریده آلماني زبان چنین وانمود گردیده که «سالانه کم ازکم دوهزارتن درکشورآلمان به مرض ایدزمبتلامیگردند «وگفته میتوانیم که سالانه دریك کشوراروپایي وغربي اضافه ازدوهزارفامیل به این مرض جدیدآدچارمیگردند واین بدان سبب امت که طبق گفته صاحبنظران ،ازیك فامیل تنهایك تن که آغشته به مرض ایدزباشد میتواندنظریه ارتباط وعلایقي که بافامیل خویش دارد همه افرادآن فامیل رابه این بیماري آغشته نماید،حتي اثرات آن درنسلهاي آینده به صراحت مشاهده خواهدگردید .

امااینکه بیماري ایدز چگونه نشأت نموده ،علل واسباب وطرق بیرون رفت ازاین مرض که باسرعت عجیب وسعت میبابد چه خواهد بود؟پاسخ به این سوال راگرچه پژوهشگران واهل خبره الآن بعدازتلاشهاي زیادتقریباارائه داشته اند ولي دین مقدس اسلام اضافه ترازچهارده قرن قبل پیروان خویش رابخاطرٍقایه ازاسباب این نوع امراض مهلك به اجتناب وخود داري توصیه نموده که اینك به چندعلل آن دراین راستا اشاره مینمائیم

۱- عدم خـتـنه .ازآنجـاییکه دانشمندان ثابت ساخته اند ماده اصلي بیماري ایدزیك نوع مکروب خطیرست واین همان مکروبست که تحت جلد ایوست ،آله تناسلي جاگزینـه » وچون انسان درطفولیت ختنه نگردد للازمینه ٔ خوبي براي اجتماع ویروسهاومکروبها تحت همان جلدآله ٔتناسلي که طبعاًدروقت ختنه (سنت کردن) قطع میشودمساعدگردیده وبعدازنشأت بلاخره به مرض ایدزمبدل میگردد وبراي همه هویداست که مسئله ختنه دراسلام یکي ازمسائل اهم وضروریست .

۲- جماع کردن ویکجاشدن بازنان درحالت حیض ونفاس .بخاطریکه همان خون کشیف که دراین دوحالت (حیض ونفاس)از زنان طبیعتاًجاري میگردد باخودیك نوع مکروبهارادارامیباشدکه دروقت جماع به مردان منتقل میشود که بالاخره باعث بمیان آمدن ومهیاشدن اسباب بیماري ایدزدرهردوجانب حتي درنسلیکه ازآنهاتولیدمیگرددمیشود .

درحالیکه دین مبین اسلام قبلاًجماع رابازنان درچنین حالات ممنوع قرارداده .

۳- زناویکجاشدن چندین مرد بایك زن نظریه تحقیقات پژوهشگران این عمل نه تنهاباعث اختلاط نسلهاونسب میگرددبلکه باعث نشأت وتوسعه بیماري ایدزمیگردد .

درحالیکه زنادراسلام ازبدترین اعمال محسوب گردیده وبخاطرجلوگیري ازاختلاط انساب بالاي زنان عدت لازم گردیده است .

لذا اگرنکات فوق درنظرگرفته شود میتوان جلواین بیماري مهلك راگرفت .ورنه اضافه ترگسترش خواهد یافت .

مؤلف : دکتور عبدالرحمن رأفت باشا - مترجم : بشار ۴۳

داصحابو دژوند پلوشي

بیاهغوي پربیبودم ،اوکله چي په سدشوم نورسول الله صلي الله علیه وسلم ته ورغلم اوځنګه چي هغه زماحال ته وکتل نوراته یي وویل :آیاته مي دخپل اسلام له اعلانولوڅخه منع کړي نه وې ؟

ماوویل :اي دالله رسوله ازمایه زړه کي څه حاجت ؤ اوهغه مي ترسره کړ.

هغه وویل :خپل قوم ته دي ورشه ،اوڅه چي دي ولیدل اوڅه چي دي واوریدل هغوي ورڅخه خبرکړه ،اوهغوي دالله په لوري راوبوله ،هیله ده چي الله په تاسره هغوي ته خیر ورسوي اوالله دهغوي په سبب تاته اجردرکړي...

اوبیاکله چي خبرشوي چي زه غالب شوم نو ماته راشي .

ابوذروویل :بیازه روان شوم څوچي دخپل قوم کورونو ته ورسیدم اوزماوروراُنیس راته په مخه راغي اوراته یي وویل : تاڅه وکړل ؟ماوویل :مااسلام ومانه اودهغه تصدیق مي وکړ.بیادبروخت تیرنشوچي الله دهغه سینه داسلام دپاره پرانیستله او ویي ویل :

زه ستاله دین څخه مخ ګرځوونکي نه یم ،ماهم اسلام ومانه ،اودهغه مي تصدیق وکړ.

بیادواړه خپلي مورته راغلو،هغه مواسلام ته راوبلله اوهغي وویل :زه ستاله دین څخه مخ ګرځوونکي نه یم اودادي ماهم اسلام ومانه .

دغي مؤمني کورنی له همدي ورځي دغفارپه قبیله کي دالله په لوري بلنه پیل کړه اوپه دغه لاره کي یي هیڅ ستومانتیااوخپګان ونه لیدتردي چي دغفارڅخه ډیرکسان مسلمانان شول اوپه هغوي کي دلمانځه رکن قایم شو.

دغفارڅخه ځینو وویل :

مونږ به پرخپل دین پاتي یوڅوچي پیغمبرمدیني ته راشي اوبیاچي راغي نوبیابه مونږاسلام ومنو.

کله چي پیغمبر علیه السلام مدیني ته راغي نوهغوي اسلام ومانه اوپه دغه وخت الهي پیغمبروویل :الله دي غفارته بخښنه وکړي ،اوهغوي اسلام ومانه الله دي دوي سالم ولري .ابوذرپه بیدیاکي پخپل ځاي پاتي شوترهغه چي دبدر،احد اوخندق غزاګاني تیري شوي اوبیامخ په مدینه روان شو، اوکله چي الهي پیغمبرته راغي نودهغه څخه یي اجازه وغوښتله څودهغه خدمت وکړي .هماغه ؤچي الهي پیغمبر ورته اجازه وکړه اوهغه دپیغمبردملګرتیانعمت ومونداودهغه په خدمت سره نیکمرغه شو.

رسول الله صلي الله علیه وسلم هغه ته پرنوروباندي ډیرمبیتوب حق ورکاوه ،اودهغه عزت یي کاوه ،هروخت چي به دهغه سره مخامخ شو دهغه سره یي روغبړکاوه اوهغه ته به موسکي شواوپه لیدلو سره به یي خوښي کوله .

کله چي پاک رسول الله وفات شو،اومدینه منوره له خپل یادار څخه خالي اودهغه دغونډوله هدایت څخه وچه پاتي شوه نوپه ابوذرباند ي مدینه منوره کي اوسیدل سخت تمام شونوهماغه ؤچي ابوذردشام شاړ خواته لاړاو هلته دابوبکراوفاروق رضوان الله علیهم دخلافت په دوره کي واوسید اوبیاچي دعثمان «رض»دخلافت دوره شوه نوهغه دمشق ته لاړاوبیا هلته ورڅرګنده شوه چي مسلمانانو دنیاته مخه کړي ده اوپه دنیوي عیش اوعشرت کي ډوب شوي دي نودهغوي دغه حالت دهغه دحیرانتیا اوناخوښی سبب شو.بیاعثمان بن عفان «رض»هغه ته دمدیني بلنه ورکړه اودهغه دبلني په اساس مدیني ته لاړولي ډیرځنډیي ونکړچي په مدینه کي هم دخلکوددنیوي علاقي له امله په تنګ شو اوخلک هم دده دشدت اوسخت ګیري دلاسه په تنګ راغلل نوبیا هماغه شوچي عثمان «رض»ورته امر وکړچي ـ الربذه ـ ته لاړشي اوهلته واوسیږي (الربذه دمدیني دباندوڅخه یوه کوچني بانډه وه)بیادي الربذه ته لاړاوهلته دخلکوڅخه لري واوسید اوددنیوي عیش په مقابل کي یي دزهد لاره غوره کړه اوځنګه چي پیغمبراودده دوملګرودنیاپه نسبت اخرت ته مخه کړي وه ده هم اخرت ته مخه کړه .

باقي لري

دلغمان قرغیو سیمی د کوکنارو د کروندی ، بندیز غونډی راپور تاژ

راژ محمد «ویښ »

په تول هـیواد کی د کـوکنارو د کرکیلی د بندولو له امله د عالیقدر امیر لمومنین د فرمان د هر کلی په هکله د لغمان ولایت د قرغیو په سیمه کی د شعبان المعظم په ۱۳ مه نیټه د کرامو عالمانو ، قومی مشرانواو کروندګرو ستره غونډه وشوه چی له لسو زیاتو عالمانو ، مشرانو او کروندګرو یکی د کوکنارو د غندنی په خاطر په زړه پوري څرګندونی وکړی چی لنډیز یی په لاندی ډول وړاندی کیږی؛

د کوکنارو د کروندی د غندلو او منع کولو له امله د عالیقدر امیر المومنین د فرمان له مخی د ۱٤۲۱ کال د شعبان په ۱۳مه د ختیځ زون ، لغمان ولایت ، قرغیو ولسوالی په مرکز کی د علما کرام ، قومی مشرانو او ګڼ شمیر کروندګرو ، ستره غونډه وشوه ، چی هغې ته د لغمان ولایت ، قرغیو ولسوالی په امارتی مسئولانو سربیره ، د ختیځ زون ، مخدر موادو مرکز مسول هم راغلی و غونډه د قرغیو ولسوالی د دینی مدرسی د زدکوونکو د یو تن له خوا د قرآنکریم د څو آیتونو په تلاوت پیل شوه .

لومړی د امر بالمعروف څانګی مرستیال وروسته د محلی بو ښتیر علما کرام او قومی مشرانو له خوا په وار سره د کوکنارو د ناوړه بوټی او مشتقاتو په کلکه ، غندنه وشوه ، چی له هغی جملی ، دلته د لاندی علما ، کرام ، او امارتی مشرانو ، د تفصیلی ، دینی علمی مدللو څرګندونو ، لنډیز ځیرو .

مولوی عبدالواحد ، چهارباغ ښارګوټی د جامع خطیب له حمد ، درود وروستـــه وویل : هر کله چی اسلامی امت په اسلامی نظامونو ، کی د دینی او شرعی غوښتنو ثمره ، او د سمی پوهی ، سالم تعقل له چینی اوبه څښی بنایی د دغه انسانی اصل پالنی روزنی او ساتنی ته له زیات نه زیاته پاملرنه وشی ، چی د بی توپیری په ګند ملوث نشی .

لکه چی وشو ، او دامو حال شو .

دین ، الهی قـانون ، اصـول ، لارښوونه او نصیحت دی چی بنایی له لمانځی پاکی خولی را بهر او په لمانځی غورو او زړو کی ځای ونیسی څوزرونه ، فکرونه د انسانی اصل وجابیو ته ځیر او د الله تعالی رضا تر لاسه شی .

کوکنار پلید او مشتقات یی لا زیات پلید دی د انسان د روحی او عقلی حالت د ګډوډی او ویجاړتیا سبب ، د فکر او عمل د بیلتون عامل د انسان د معنویت تویان او بدمرغی ده .

مولوی ضیاالدین د مندرو ړ د جامع خطیب دوهم وینډوی و چی د کوکنارو ناولتیایی وغندله او ددغه کرغیړن بوټی د کروندی تحریم یی د اسلامی امارت د شرعی حکم مطابق تایید او زیاته یی کړه : سمه پوهه د سمو مغزو محصول ، او د حقـایقو لیون ، او موندلو ښه وسیله ، او د دیانت معیار دی ، نو ځکه د بی عقلانو او معتوه کسانو شاهدی شرعاًنده منظوره .

کوکنار او مشتقات یی د عقل غلیمان او د پو هی تالانګردی ، پښتـانه وایی : پوه سړی نه سړی چاته یی چی عقل ندی ورکړی نو څه یی ورکړی دی ؟او دا په ځای هم ده ، ځکه انسان نه د عقل او پوهی په اعتبار د شرافت او کرامت په دایره کی د ګډون حق ورکړ شوی او چی دا د فضیلت جوهر په چا کی نه وی سړی یی نه بولی .

- مولوی محمد نواب قرغیو ولسوال د غونډی دریم تفصیلی وینډوی ؤ چی په غـونډه کی یی د کوکنار د تجربه په تفصیلی ډیا کی کړه نه ګړو ته داسی وویل :

ځنګه چی اسلامی امت په بشری نړۍ کی د انسان کرامت او اخلاقی فضایلو څرګندوی او ددغه امتیاز له مخی له نورو جلا شوی په ډیره خواشینی چی کوکنار او د هغه مشتقات او داسی نور نشه یی مواد ، د نش په نامه تلذذ د دوکی او تیر ایستنی له مخی د انسان د معنوی جلته مخه نیسی او د خیر ښیګړی اخلاقی فضیلت) روحیه وژنی .

ملا عبدالباری د لغمان ولایت تائب والی د خپلو څرګندونو په ترځ کی وویل : اسلامی امارت د اسلام مبارک دین او د شهیدانو له غوښتنو سره په زمنه کی خپله دنده ګنی چی د هیواد د مومن ولس د ژوند د واقعیت ژیرپه (ناده) په دینی اسلامی اصولو او سرښایی د انسانی کرامت شرافت (اخلاقی فضایلو) په سبب څلو ارزښـــو ښکلی کړی اسلامی امارت هڅه کړه ، لهو و لعب نشی منلای ، او له اسلامی واقعیت نه یی مخالفت ګڼی ، البته په دی ستر کار او شرعی عزم کی د امارت سترګی بوازی الهی نصرت او د مومن ولس د سلیم تفکر او تعقل د مرستو په لوری کری دی .

چی له امارت سره په ملګرتیا د اخلاقی کـمزورتیو لوری ژوری او . ی ، او د تقوی د لرلید په رڼا کی ددغی اسلامی ودانی کار په ښه توګه تر سره شی .

د ختیځ زون قول اردو اروند ، لغمان پوځی فرقی قوماندان د غونډی ښپږم وینډوی و چی د کوکنارو ناولتیا او مفاسدو د غندنی او تحریم په باب د خپلو څرګندونو په ترځ کی وویل : هر کله چی د پیریانو او انسانانو پیدایښت اصلی مقصد د څښتن تعالی عبادت او بندګی ده چی تر سره کیدل یی پوره پوهه او سالم تفکر غواړی نو نه بنایی اخلاقی فسادونو او د پوهی د ستی چنجو ته فرصت ورکړ شی چی د دغه الهی نعمتونه په نشه یی څیزو لکه کوکنار او مشتقات یی کګړ او د هغو د فساد له لاری د پوهی او فکر معنوی بنیادونه په لیونتوب او بیندی تالاوالا شی راځی کوکنار وغندو او د اسلامی امارت د فرمان له مخی ددغه بوټی کرکیلی له دینی مسوولیت نه ځان خلاص او انسانی فضیلت ته د خدمت مصدر شی .

جمعیت افغاني سره...

طبي مساعدت نموده است .

این كمكها با كلینیك شهید لالا ملنگ ولایت كندهار، كلینیك اداره امور شفاخانه قواي هوايي و مدافعه هوايي و ریاست صحت عامه ولایت تخار صورت گرفته است .

پاككاري جوي...

پاككاري این جوي به تعداد ۳۱۵ نفر كارگر مصروف كار بوده كه كار پاك كاري و لایه كشي آن از سوي بخش زراعت كمیته آي سي ار سي پیشبرده میشود.

در مراسم آغاز كار پاك كاري جوي مذكور محترم مولوي محمد سرور حق پرست كفیل ولایت لوگر در رابطه به احیا و باز سازي تاسیسات زراعتي در كشور صحبت نموده و راه اندازي همچو كار هاي عام المنفعه را در كشور با ارزش خواند.

كمیسیون بررسي...

تجارت در حالیكه نماینده گان وزارت هاي مالیه ، فواید عامه و معادن و صنایع نیز حاضر بودند در رابطه به چگونگي اجراات تصدي ها صحبت نموده بعداً هیأت متذكره امور تصدي هاي ساختماني افغاني مواد طبي و تخنیكي پشمینه بافي پل چرخي صنایع افغان و نباتات طبي را بررسي نموده و در رابطه به ساختار بیلانس هاي تا تمام سال هاي گذشته و اجراات امور تصدي ها مشوره هاي لازم داده منسوبین مربوط را به اجراي بهتر وظایف شان متوجه ساختند.

عراق به فروش ...

پول اضافي از این مدرك مستقیماً به یك حساب بانكي عراق پرداخته شود امیر محمد رشید وزیر نفت عراق طي یك كنفرانس خبري در بغداد گفت كه خواهان افزایش قیمت نفت در هر بیرل پنجاه سنت میباشد.

په هلمند كي ...

راویلل.

وروسته د هلمند ولایت د اطلاعاتو او كلتور رئیس محترم ملا نظر محمد مطمئن د شاعرانو او لیكوالو د ټولني د جوړولو د معنوي **ارزښت په باب خبري وكړي او ددغي ټولني د پیاوړتیا په لاره كي** بي د نشراتي موسسو د چارواكو او لیكوالو هلي ځلي ارزښتناكي وبللي.

وروسته بو شمیر شاعرانو خپل شعرونه ولوستل او ددغي ادبي غونډي په پاي كي د هلمند جریدي وروستي ګڼي په برخه والو باندي وویشل شوي.

مذاكرات اعضا ...

هاي عضو اتحادیه اروپا حل و فصل گردد اوسكافیشر وزیر خارجه المان تاكید ورزید كه هر كشور باید به مقیاس نفوس خود در اتحادیه اروپا عضویت داشته باشد.

قرار است جلسه سران اتحادیه اروپا در این ارتباط به روز پنجشنبه در شهر نیس فرانسه برگذار شود.

د كورنیو چارو ...

پكتیكا والي محترم مولوي عبدالروف خدام په دغو ولایتونو كي د عامه نظم د تامینولو په برخه كي د خپلو اړوندو ادارو د كړو وړو او اجرااتو او په خپل وخت د خلكو د كارونو د تر سره كولو په اړوند د كورنیو چارو محترم وزیر ته مفصل رپوټونه وړاندي كړل .

په مقابل كي د كورنیو چارو محترم وزیر د اړوندو چارو د لازیات ښه والي او په خپل وخت د كارونو د تر سره كولو په باره كي دغو والیانو ته مشخصي لارښووني وكړي .

تركیه خپل...

تركیي په پلازمینه انقره كي وشوي د هغه هیواد د اقتصاد د نسبي ثبات بیا ټینګښت دي چي په دي وروستیو كي د یو ستر اقتصادي بحران له امله زیانمن شوېدي.

ددغه بحران له امله په هغه هیواد كي د اسهامو بیي لوړېدلي او د پیسو ارزښت بي راټیټ شوېدي.

اوس ریوټ وركړ شوي دي چي تركیه په پام كي لري له نړیوال وجهي صندوق څخه د څلور ملیونه ډالرو پور غوښتنه وكړي .

د سوداګرۍ وزارت

نړۍ له ټولو هیوادونو سره د سوداګرۍ په برخه كي تر اوسه پوري كومه ستونزه نلرو او په راتلونكي كي هم له پخوا څخه د زیاتو اړیكو د ټینګښت غوښتنه كوو

د ګاونډیو هیوادونو پاكستان، ایران او تركمنستان د بندرونو له لاري د وارداتو او صادراتو بهیر په عادي ډول دوام لري او په راتلونكي كي د دغو اړیكو د پراختیا هیله لرو .

بیش از پنج ...

در قد ولایت تخار بیش از سه نفر از اتباع تاجكستان مصروف قاچاق و خرید و فروش هیروئین بوده كه از حمایت مستقیم روسیه برخوردار میباشند.

تعداد تلفات...

عصر پریروز توانستند اجساد شش تن دیگر را از مخروبه دو قطار آهن بیرون سازند.

از اثر این حادثه به تعداد چهل نفر مجروح گردیده است این حادثه زماني رخ داد كه یك قطار آهن مسافرین سریع السیر با یك قطار آهن باربري كه از خط آهن منحرف گردیده بود تصادم نمود.

محترم قاضي القضات ...

گردید.

ابتدا آیات چند از كلام الله مجید قرائت گردید بعداً محترم قاضي القضات و رئیس ستره محكمه روي موضوعات سیاسي و مسایل قضایي كشور صحبت همه جانبه نمودند كه در بخشي از سخنان عالمانه خویش گفتند : ا.ا.ا در هر اقدام و عمل خود منافع مردم خویش راد ر نظر گرفته و میگیرد كه از آن جمله اقدام منع كلي كشت كوكنار یقیناً به نفع ملت مسلمان افغانستان میباشد و ملت متدین و مجاهد ازین فرمان منع كلي كشت كوكنار به خوبي استقبال نموده و در همه نقاط افغانستان از كشت آن بكلي دست بردار شده اند و ما از دیانت و این اطاعت كامل شان قدر داني مي نمایم و چون ضرر افیون به همه مردم جهان متوجه میباشد لازم بود كه ملل متحد عوض منع كشت آن با مردم ما كمك مینمودند ولي متاسفانه ملل متحد میگوید پولیكه بخاطر جلوگیري مواد مخدره مختص گردیده بود تمام شده است سوال اینجا پیدا میشود كه چطور آن پول در همین وقت به اتمام رسیده اصلاً سخن درین جاست كه بالاي ملل متحد این سخن خوب نخورده كه ا.ا.ا اظهار نموده است، ما یان كار را نه به خواسته كسي و نه به اثر فشار كسي انجام داده ایم و نه بخاطر اینكه ما را كسي به رسمیت بشناسد و در عین حال رسانه هاي خبري خارجي تبلیغات سو مینمایند كه منع كلي كشت كوكنار براي طالبان مشكلات اقتصادي و سیاسي را به بار میآورد، زیرا از یك طرف طالبان آنقدر پول ندارند كه با مردم كمك كنند، و از طرف دیگر پول مختص شده ملل متحد ختم گردیده است در حقیقت آنان میخواهند تخم نفاق را در بین امارت و مردم مسلمان ما بپاشند و ما متیقن هستیم كه ملت مسلمان ما به این تبلیغات فریب نمي خورند و افتخارات دیني و افغاني خود را از دست نمي دهند.

محترم قاضي القضات در رابطه به محاكم فرمودند : بر قضات و سایر پرسونل محاكم لازم است كه در اجراات شان عدالت واقعي و بي طرفي كامل را بطور جدي رعایت و عملي نموده باشند و باید بین خان و غریب، اجنبي و قریب و مسوول امارتي و شخص عادي كدام تفاوت نزد شان وجود نداشته باشد، ستره محكمه ا.ا.ا از همه محاكم كشور مراقبت مي نماید ، هر كس كه تحت اشتباه قرار بگیرد آن را تعقیب مینماید و اگر كسي به ستره محكمه در باره شخص و یا محكمه كدام راپور و اطلاع بدهد ستره محكمه بخاطر روشن ساختن حقایق افراد موظف خویش را به محل اعزام میدارد و با همه وسایل اثبات ادعا بدسترس راپور دهنده گذاشته میشود تا نزد ستره محكمه راپور خود را مستند و موثق گردانیده باشد.

ستره محكمه ا.ا.ا هر گونه شكایت مردم را میشنود ولي اكثر اوقات شكایات كه از طریق صندوق شكایات و یا از طریق دیگر به ما میرسد، مبهم و بدون ذكر نام شاكي و هم بدون تعین و نشاندهي محل **و محكمه ئیكه از آن شكایت نموده تحریر شده میباشد و ما نمیدانیم كه شكایت از كي و در كجا است تا آن را تعقیب نمایبم و این عمل چندین بار از طرف شكایت كننده گان تكرار گردیده است باید همه مردم شكایات شان را واضح با ذكر نمودن اسم خود و تعین محل شكایت تحریر نموده باشند.**

از میدان هوايي بلخ هفته وار حدود ...

مخابره هاي تاكي واكي در اختیار آنان بود.

حواشي جاده هاي ترمینل میدان از پاكي و صفایي خوب برخوردار بود، موظفین میدان هر یك با بیقراري ابشو و آنسو در حركت بودند و از سیماي شان چنین وانمود میشد كه گویا چطور میتوانند در خدمت مسافرین خویش خوبتر بشتابند و خاطر عزیز مهمانان شانرا شاد و راضي داشته باشند.

یكتن از این میزبانان با دهن خندان و پیشاني گشاده كنار دروازه طیاره ایستاده بود، وي به این عنوان كه مسافرین خویش را یقیناً بفهماند كه آریانا واقعاً خدمتگذار و مهماندار مسافرینش است با پائین شدن هر مسافر از زینه هاي طیاره رسم احترام بجا مینمود و میگفت به مزار شریف خوش آمدید!

چند گام پائینتر از طیاره یك بس ۳۰۲ كه در آن مارك شركت آریانا دیده میشد موظف شده بود تا مهمانان آریانا را عندالموقع الي مركز شهر یعني روضه مبارك منتقال نماید. در گوشه، شمالي میدان جمعي از مسافرین اعم از مردان، زنان و اطفال دیده میشدند كه بیصبرانه پرواز كابل را دقیقه شماري میكردند درین میان انجنیر همایون كارمند موسسه شفق در رابطه به تسهیلات پرواز هاي آریانا در بلخ میگوید آریانا امروز براي ما

حیثیت سیروم قطغن زمین را دارد ، اگر این سیروم از فضاي قطغن زمین بیرون كشیده شود به یقین گفته میتوانم كه آنگاه حیات براي ما مشكل تر از ممات خواهد شد.

سید حبیب باشنده كوچه مارمل بلخ در زمینه میگوید : بیادر جان! تكت كابل قیمت است ما به یك تكت چارده و نیم لك امارتي میپردازیم. اگر مشكل ما را به گوش مسوولین برساني شاید كه درین زمینه یك چیزي تخفیف قایل شوند . روزانه ١٠-١٥ موتر جانب كابل حركت

متر طول و ۳۰ متر عرض دارد در هفته ١٠-١٢ پرواز طیاره هاي آریانا جانب كابل، هرات، كندهار و جلال آباد صورت میگیرد .

بین كابل و مزار شریف همه روزه پرواز داریم و مسافرین ما درین زمینه هیچ نوع مشكلي ندارند. مسافرینیكه از بلخ پرواز میكنند تنها منوط و منحصر به مزار نیستند ، اكثریت این مسافرین را ساكنین

زمان مسافرین عازم میدان میگردند نمیشود كه به سوالات مسافرین پاسخ داد . اما باید بگویم كه در نمایندگي آریانا در بلخ تقریبا ۲۵ نفر موظف شده است تا شب و روز بدون احساس كدام خستگي در

تصویر ساختمان زیباي را نشان میدهد كه مربوط به دفاتر شركت د آریانا افغان هوايي شركت در ولایت بلخ میباشد

میكند و كرایه زمیني هشت لك افغاني است، اگر در قیمت كرایه آریانا تخفیف آورده شود من متیقن هستم كه بعد از این هیچ كسي از راه زمیني به كابل نخواهد رفت .

حافظ حكمت الله «حكمت» نماینده آریانا در بلخ میگوید : از میدان هوايي بلخ كه ۳۰۰۰

ولایات سمنگان، سرپل، پلخمري، شبرغان ، كندز، بغلان و ... تشكیل میدهد. در پرواز هاي ما اكثراً اتباع خارجي نیز شامل است .

وي در برابر این پرسش كه چرا از طرف روز در نمایندگي آریانا كسي نمي باشد تا به مشكلات مسافرین رسیدگي گردد ، میگوید : از اینكه كارمندان نمایندگي آریانا همه از طرف روز غرض انتقال منظم و به وقت و

خدمت مهمانان و مسافرین خود باشیم و یگانه هدف ایجاد این نمایندگي خدمت به هموطنان مسافر و مهمانان آریانا مي باشد؛ بناً رسیدگي به مشكلات مسافرین در صدر وظایف ما قرار داشته و ما توجه خاص به آن مبذول میداریم. ما مصمم هستیم تا تسهیلات بیشتر از این را براي مسافرین خویش مهیا نمایم.

مهربان

دارالتأدیب یوه ...

ماشومان په داسي روحیه روزي چي دوی له خپلو پخوانیو ناوړه كړو وړو څخه پښیماني وښيي او دیوه ټاكلي وخت له تیریدو وروسته د سالم او باد یانته فرد په توګه ټولني ته وړاندي كیږي .

ده زیاته كړه چي د دارالتأدیب په مؤسسه كي همدا اوس د ترحجز لاندي ماشومانو او تنكیو ځوانانو شمیر ۹۱ تنو ته رسیږي چي له دي جملي نه ۳٦ تنه هلكان د خپلو مېندو او پلرونو له خوا د سالمي ښووني او روزني لپاره راولیږل شوي ۳۲ تنه نجوني **دبیلابیلو جرمونو د ارتكاب له امله د امر بالمعروف او نهي** عن المنكر وزارت ،د جنايي مدیریت ،نظامي محكمي، نظامي كمیسیون او د ترافیكي حادثاتو د مدیریت له خوا معرفي شوي دي .ددغو ماشومانو شمیر كله كم او كله زیات یعني په نوساني حالت كي دي. د دوی د حبس موده د جرم مطابق د محاكمو له خوا ټاكل كیږي او اعاشه او اباته یې د اسلامي امارت له خوا برابرېږي. دي زیاتوي چي موږ د نومړو ماشومانو د سالمي ښووني او روزني په برخه كي ګټورګامونه اخیستي او له سوبي سره سم مو په پنځو ټولګیو كي تنظیم كړي دي **چي د لیک لوست چاري یې د تكړه او مجربو ښوونكو له خوا پر مخ بیول كیږي . دغه ماشومان له لازمو روغتیایي آسانتیاوو هم برخمن دي.**

ده زرګنده كړه چي د دارالتادیب موسسه پر مركز بر سیره د هیواد په كچه پنځه نور **مركزونه هم لري چي د ریاستونو په سویه د كندهار ، هرات، بلخ، پكتیا او ننګرهارپه ولایتونو كي فعال او د اړوندو زونونو په سطحه فعالیت كوي.**

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim "Saqeb"
Editor: Ghulam M. Farooq
Printed by: Emirate's Printing Press

د ګون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	كلني
پاكستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریكا	US$75	US$150